نهايي
دچنګاښ ۲۳ مه نېټه
د ۲۰۱۰ زيږديز کال
د جولاې ۱۴ مه نېټه

# د عامه مالی چارو د اداری تګلاره

د عامه مالي چارو د ادارې د تګلارې د خپرولو څانګه
د مالي چارو معينيت
د ماليي وزارت
د افغانستان اسلامي جمهوريت- د ماليي وزارت

www.mof.gov.af

# د مطالبو لړلیک

سریزه.......................................................................................................................................
٣..........
د افغانستان د عامه مالي چارو د اداري د سیستم ورتیاوې .......................................................................۴
د افغانستان د عامه مالي چارو د اداري د سیستم
کمزورتیاوې...............................................................................۵
د افغانستان د عامه مالي چارو د پیاوړتیا لپاره مهم موضوعات ..............................................................۶
١- په سمه توګه د دولت د لومړیتوب وړ اهدافو د ترلاسه کولو په موخه د بودجې
پیاوړتیا ...................٩
٢- د بودجې د اجرا په برخه کې پرمختګ.......................................................١٢
٣- د حساب ورکولو او روښتیا زیاتوالې ......................................................١۵

د اړونده وزارتونو د ظرفیتونو د لوړوالي په موخه د اصلاحاتو تر سره
کول...............................................١٨

## سریزه

د لندن په کنفرانس کې چې د ۲۰۱۰ زیږدیز کال د جنورۍ په میاشت کې تر سره شو، د افغانستان دولت او پرمختیایي ملګرو یې هوکړه وکړه چې په راتلونکو دوه کلونو کې به د بهرنیو مرستو ۵۰٪ سلنه د مرکزي بودجې له لارې د افغانستان د دولت په واک کې ورکړل شي. نوموړې ژمنه د پرمختګ د لګښتونو د تمویل لپاره یو مهم او د پام وړ تغیر ګڼل کیږي. د نوموړو منابعو د اغیزمن استعمال په موخه د افغانستان دولت هوکړه وکړه چې د کابل په کنفرانس کې به د عامه مالي چارو د اداري د سیستم د لا پیاوړتیا په موخه جامع پلانونه ترتیب او د اداري درغلیو کچه راټیټه کړي، د بودجې د اجرا او پلي کولو په برخه کې به پرمختګ رامنځته کړي، د عامه پرمختګ لپاره به مالي استراتیژي جوړه او په ښه توګه د خدمتونو د تر سره کولو لپاره به د افغانستان د دولت ظرفیتونه لوړ کړي.

د عامه مالي چارو د اداري نوموړي کاري پلان په ګوته کوي چې څرنګه د افغانستان دولت کولای چې په اغیزمن پول د شفافیت او حساب ورکولو د لوړو معیارونو په کارولو سره د پروګرامونو د پلي کولو او طرحه کولو لپاره د افغانستان دولت ظرفیتونه لوړ کړي. نوموړې طرحه په دریو اساسي اهدافو تمرکز کوي: په اغیزمن پول د لومړیتوب وړ اهدافو د ترلاسه کولو په موخه د بودجې پیاوړتیا؛ د بودجې د اجرا پرمختګ؛ او د روڼتیا او حساب ورکولو زیاتوالی. یوه مهمه او د پام وړ مشترکه موضوع چې د نوموړو اهدافو د تر لاسه کولو په برخه کې د پام وړ رول لوبوي، د اړونده وزارتونو د ظرفیتونو د لوړوالي څخه عبارت دی.

د افغانستان دولت غواړي چې نوموړي اهداف د ۲۰۱۱ زیږدیز کال د جولای د میاشتې پورې د دریو اساسي شاخصونو له لارې تر لاسه کړي:

۱- منځمهاله مالي چوکاټ د کورنیو عوایدو او لګښتونو د پلان، وړاندوینې او لومړیتوبونو د ټاکلو په موخه پیاوړې شوې، تر څو د مالي استحکام په لور کار وکړي.

۲- د بودجې اجرا په کلني پول په منځمهاله موده کې په اړونده وزارتونو او ولایتي کچه د پلان جوړونې او تدارکاتو په برخو کې د روزنیزو پروګرامونو او ظرفیتونو د لوړوالي د پروګرامونو له مخې د ۱۰-۲۰ ٪ زیاتوالی موندلی دی ( د تیر کال لپاره د اجرا شوې بودجې د مبلغ په پرتله).

۳- د افغانستان هیواد د دولتي اشخاصو او مدني ټولنو تر منځ د اړیکو، د کورنۍ او بهرنۍ پلټنې لپاره د پرمختللو وسایلو د برابرولو او د AFMIS په واسطه د مالي راپورونو له امله د بودجې په خلاص لړلیک (Open Budget Index) کې په ۱۳۹۰ کال کې ۳۰ ٪ پرمختګ کړی دی.

د عامه مالي چارو د اداري تګلاره په یواځې توګه اغیزمنتیا نه لري، بلکه نوموړې تګلاره باید د دولت د هغه پلانونو سره په نیږدې همغږۍ له سره وکتل شي چې د کابل په نړیوال کنفرانس کې یې یادونه شوې ده، تر څو په اغیزمن پول دوامداره پرمختګ او ټاکل شوې پایلې تر لاسه شي. دولت ژمن دی چې په اغیزمن پول د انتفاعي پروګرامونو له لارې د افغانستان د پرمختګ د ملي استراتیژۍ لومړیتوبونه تر لاسه کړي؛ نوموړې تګلاره د هر اړخیزې واکمنۍ په موخه پلانونه په ګوته کوي، د اداري درغلیو کچه راټیټوي او تر څنګ یې په اغیزمنه توګه مالي مرستې تر سره کوي؛ له بل پلوه ټولنیز او اقتصادي اصلاحات رامنځته کوي چې د پرمختیایي اهدافو د ترلاسه کولو لپاره یو عمومي چوکاټ رامنځته کوي. نوموړي اصلاحات ځانګړې ساحې رانغاړي چې د عامه مالي چارو د اداري په برخه کې د پام وړ اهمیت لري خو د دې سند له دایرې څخه بهر دي؛ د بیلګې په ډیر په دوامداره توګه د کورنیو عوایدو راټولول او د هغې اداره کول؛ د دولتي تصدیو پرمختللي

مالي مشرتابه او د هغوئ مجدد اداري جوړښت او په غوره ډول د نقدي پيسو اداره او د کنترول سيستمونه.

نوموړي سند د ماليې وزارت د مالي مرستيال په مشرئ او د اړونده څانګو ( بودجې، خزاينو او د مالي پاليسۍ څانګه، د کورنۍ پلټنې د رياست او د ماليې وزارت د تدارکاتو د پاليسۍ د څانګې د کارکوونکو او د کنترول او پلټنې د اداري د استازو په مرسته ترتيب شوي دي. د اوسنيو بريالیتوبونو، پاتي ستونزو او د هغوئ حل، د ورځنيو عملي تجربو د کنبلو او همداراز د تيرو تجزيوي څيړنو د تحليل او پيژندنې په موخه يو لړ ورکشاپونه داير شوي دي. د نوموړي سند په اړه د نړيوال وجهي صندوق او نړيوال بانک سره سلا مشوري تر سره شوي دي، همداراز د ملګرو هيوادونو سره لکه د امريکا متحده ايالات او برطانيې سره سلامشوري شوي دي. د دي لپاره چې باوري کړل شي چې نوموړي تګلاري د اړونده وزارتونو ستونزې، ظرفيتونه او د منابعو اړتياوې په پام کې نيولې دي، د ANDS د لومړيتوبونو د کلستر کارپوهانو د نوموړي تګلاري تفصيلي شننه تر سره کړي او د نوموړي طرحې وړانديزونه يې تاييد کړي دي.

## د افغانستان د عامه مالي چارو د اداري د سيستم وړتياوې

شننې او تجزيې د عامه مالي چارو د اداري د نوموړي سند ملاتړ کوي او د افغانستان د دولت په سيستم کې چې د دوامداره اصلاحاتو لپاره يو غښتلي بنسټ برابروي لاندې وړتياوې په ګوته کړي دي.

**قانوني چوکاټ:** د ۲۰۰۵ زيږديز کال د عامه مالي اداري او لګښتونو قانون (PFMEL) او د ۲۰۰۸ زيږديز کال د تدارکاتو قانون د دوامداره اصلاحاتو لپاره قانوني بنسټ برابروي. د داخلي دولت د ښاروالۍ فعاليتونه د ۲۰۰۰ زيږديز کال د ښاروالۍ د قانون لاندې راځي. بنسټيزه تشه يا خلا د بهرنۍ پلټنې د عصري قانون پلي کول دي، چې په مختصر ډول د پلټنې د نوي قانون له مخې تشريح کيږي.

**د معلوماتو او اداري سيستمونه:** اوسمهال د افغانستان د مالي اداري د معلوماتو سيستم د کابل په کچه په ټولو بودجوي واحدونو او مستوفيتونو کې موجود دي ( تر ټولو وروستنۍ اتصال د نورستان ولايت ته ؤ چې د ۲۰۱۰ زيږديز کال د جون په مياشت کې تر لا سه شو). د مرستندويانو د همکارئ په ډيټابيس کې د مرستندويانو د آن لاين پوهاوي په موخه د اضافي خصوصياتو زياتوالې. د پورونو د تنظيم سيستم نافذ او په ربعوار ډول د پورونو د راپور ورکولو په برخه کې مرسته او ملاتړ کوي. د دولت د بودجوي پلان جوړونې سيستم (SBPS) او د تدارکاتو د اداري د معلوماتي سيستم د پلي کولو په موخه يو لړ پروژو په کار پيل کړي دي. د مالي خدمتونو د سيستمونو په برخه کې پرمختګ د دولت په تادياتو او بانکدارئ کې پرمختګ رامنځته کړي- د دولتي کارکوونکو له نيمايي څخه زيات کارکوونکي خپل معاشونه د يو له څلورو جواز لرونکو سوداګريزو بانکونو څخه تر لاسه کوي، او ډيرې بې معاشه تاديات په مستقيمه توګه د تهيه کوونکي بانکي حساب ته انتقاليږي.

**په منځمهاله مالي چوکاټ کې د کلنۍ بودجې جوړول:** د منځمهاله مالي پاليسۍ د چوکاټ د پولو په محوطه کې او د مالي منابعو په پام کې نيولو سره د کلنۍ بودجې د جوړولو په موخه يو غښتلې چوکاټ رامنځته شوې دي. د کلنۍ بودجې لپاره يو زماني کليز يا مهالويش ترتيب شوئ چې بودجوې واحدونه د بودجې د وړانديزونو لپاره د نوموړي جدول څخه کټه پورته کوي. د بودجې مهمې څانګې د پروګرامي بودجې پر بنسټ د بودجې په وړانديزونو کار کوي او د منابعو وړانديزونه د دولت د لومړيتوبونو سره پرتله کوي.

**حسابداري او مالي راپور:** د ۱۳۸۴ کال څخه را پديخوا قطعيه د عامه مالي چارو او لګښتونو د قانون PFMEL د اصولو او مقرراتو سره سمه د مالي کال په وروستيو شپږو مياشتو کې ولسي جرګې ته سپارل شوې ده. د مرکزي دولت مالي اعلاميه د هرې مياشتې په پاې کې د ۲۵ ورځو په موده کې نشر ته سپارل کيږې. ټول بانکي حسابونه په منظم ډول تصفيه کيږي او بودجوي واحدونه په مياشتيني ډول د ماليې وزارت د اسنادو او سوابقو سره سم خپل عوايد او لګښتونه سره تصفيه کوي. د حسابونو جدول د دولت د مالي سيستم د احصاييې(GFS) درجه بندي چې د نړيوال وجهي صندوق په نشريه کې بيان شوې دي، د ملګرو ملتونو د احصاييې د درجه بندئ په ګډون د دولت فعاليتونه(COFOG) احتوا کوي. افغانستان توانيدلې دې چې په ټاکلي وخت خپل مالي راپورونه نړيوال وجهي صندوق ته وسپاري او د ۲۰۱۰ زيږديز کال د مارچ د مياشتې راهيسې يې نوموړې راپورونه د نړيوال وجهي صندوق د مالي احصائيې په جريده کې نشر ته سپارل کيږي.

## د افغانستان د عامه مالي چارو د اداري کمزورتياوې

ارزونې په ګوته کوي چې د اصلاحاتو رامنځته کول باید راتلونکو تشو یا خلاوو ته د پام وړ پاملرنه وشي. په دې برخه کې، لاندې ټکي ګڼل کیږي:

**ظرفیت:** په افغانستان کې د اصلاحاتو د رامنځته کولو په لړ کې د ظرفیتونو نه شتون یو ستر خنډ بلل کیږي. د دولت تجربه کار مامورین په چټکۍ سره د نوي تیکنالوژۍ سره په یوه داسې چاپیریال کې بلدتیا پیدا کوي چې د بدلیدو په حال کې دي. هغه کسان چې نوي تخنیکي زده کړې یې تر لاسه کړي وي، په عام ډول کافي تجربه نه لري. هغه افغانان چې د تخنیکي مهارتونو تر څنګ کاري تجربه و لري، تر ډیره بریده لیواله وي چې په خصوصي سکتور او نا دولتي سازمانونو کې لوړ معاشونه او په زړه پورې دندې تر لاسه کړي. د ظرفیتونو کمبود په ځانګړي ډول په دولتي ادارو کې وجود لري. د لایقه او شایسته کارمندانو د نه شتون سره سره د هغه کارمندانو شمیره محدوده ده چې لوړ کاري ظرفیتونه لري. د افغانستان د وګړو د ۲ سلنه څخه کم په دولتي سکتور کې دندې تر سره کوي چې نوموړې شمیره د ټیټو عاید لرونکو هیوادونو لپاره هم کمه ده نو له همدې امله باید اداري اصلاحات په هغه کسانو فشار وارد نه کړي چې په لومړیو لیکو کې خدمتونه تر سره کوي. د ظرفیت لپاره د دې سند په پاي کې یوه خاصه برخه ځانګړې شوې ده. په دوامدار ډول د عامه مالي ادارې د اصلاح لپاره د ظرفیتونو د کمبود له منځه وړل د اصلاحاتو د فعالیتونو لپاره د پام وړ اهمیت لري.

**نیمګړې پوښښ:** د افغانستان عامه مالي سیستمونه یواځې هغه وجوه او پیسې تر پوښښ لاندې راولي چې د ملي بودجې لخوا مصرفیږي. دا یوه اټکلي خبره، خو په هر صورت د مرستندویانو د مرستو یواځې ۳۰ ٪ بسپنې د افغانستان د ملي بودجې له لارې لګول کیږي. د هغه پروژو په راپورونو کې چې په مستقیم ډول د مرستندویانو لخوا تمویلیږي، د پام وړ خلاوې وجود لري ( نو ښکاره خبره ده چې ۳۰ ٪ یواځې یو اټکل دی). دغه ډول لګښتونه چې د دولت د سیستم څخه بهر تر سره کیږي، هغه هڅې ټکنۍ کوي چې له مخې یې مالي منابع مهمو لومړیتوبونو ته تخصیص کیږي، همداراز د مالي استحکام اټکلونه ټکني کوي او په عامه مالي لګښتونو باندې د کورني کنترول د کموالي لامل کیږي. د دې لپاره چې مرستندویه ټولنې دیته و هڅول شي چې خپلې مرستې د افغانستان د مالي سیستم له لارې د افغانستان په واک کې ورکړي، یوې دوه اړخیزې استراتیژۍ ته اړتیا ده ( لکه څرنګه چې د لندن په کنفرانس کې بیان شوي دي) او باید باوري کړای شي چې د هغه بسپنو په اړه چې د دولت د مالي سیستم څخه بهر مصرفیږي، په خپل وخت او ګټور معلومات ورکړل شي.

**تر ډیره بریده په زړه پورې پلانونه/ لنډ مهاله کمزورې وړاندوینې:** د بودجې جوړولو او تطبیق د هغه پلانونو د پلي کیدو په اړه خوشبینې چې فعالیتونه پکې په داسې ډول ترتیب شوي وي چې په ټاکلي وخت یې بشپړول نا ممکن وي. تر یوه حده یې لامل د هغو موانعو شتون دی چې په اغیزمن ډول د پروژې د پلي کولو او تطبیق په وړاندې وجود لري، د بیلګې په څیر د پروژو لپاره ضعیفه پلان جوړونه او چمتووالی او یا د تدارکاتو په اجرا او برابرولو کې د حده زیات وخت مصرفول. ځینې داسې موارد هم شته چې بودجوي واحدونو په یو کال کې د څو کلنې پروژې لپاره د ټولو مالي منابعو د ترلاسه کولو وړاندیز کړی( چې دا د پرمختیایی بودجې د ضعیفه تطبیق یو مهم لامل ګڼل کیږي). همداراز لنډمهاله وړاندوینې کره نه دي- چې د کلنۍ بودجې په دوره کې د نقدي پیسو د اغیزمن تنظیم او د منابعو د مجدد تخصیص مانع ګرځې.

**اړیکي او همغږي:** د همغږۍ د نه موجودیت له امله په تیرو وختونو کې په عامه مالي اداره کې اصلاحات نه دي رامنځته شوي. د اصلاحاتو اجنډا د دولت د سهمدارانو سره د لازمې سلامشورې څخه پرته د مختلفو اشخاصو په واسطه رهبري شوې ده. چې په پایله کې په ځینې وختونو کې د دې پر ځاې چې د پالیسۍ پلي کول په پوره پاملرنې سره اداره او پلان یې ترتیب شي، په مرحله وار ډول له منځه تللې ده. د عامه مالي چارو د اصلاحاتو نوموړې طرحه پخپله د همغږۍ د ښه والي او ښیراځتیا په لور د یوه ګام پورته کول دي او باید د نوموړې طرحې د پلي کولو پرمهال په غوره ډول همغږي تر سره شي.

ښه همغږي د غوره اړیکو په نتیجه کې تر لاسه کیږي. باید باوري کړل شي چې هغه کارکوونکي چې فعالیتونه یې د اصلاحاتو د رامنځته کولو له امله اغیزمن کیږي، په څرګند ډول باید د هغې په لامل ځان و پوهوي او د اصلاحاتو د تطبیق او منل شوو بدلونونو لپاره ځانګړي کړنلارې عملي کړي. د کړنلارو په اړه باید په لارښوونو او هدایاتو کې ښیراځتیا رامنځته شي تر څو باوري کړل شي چې هغه کار کوونکي چې د دولت په مالي سکتور کې فعالیت کوي، د پوهاوي په موخه ګټورو توکو ته لاسرسی لري. د دولتي ادارو تر منځ د ښو اړیکو سره سره مهمه ده چې د بهرنیو سهمدارانو سره د اصلاحاتو د تطبیق، د دولت د مالي وضعیت او د خدمتونو د تر سره کولو د منابعو څخه د استفادې په اړه د تازه معلوماتو د تبادلې په موخه اړیکې پراختیا ومومي.

**ولایتونه:** په داسې حال کې چې د ولایتونو په مستوفیتونو کې د افمیس د سیستم موجودیت د مالیې وزارت او ولایتي ادارو تر منځ د اړیکو د ښیګڼې لامل شوې دی، په ورته وخت کې د مرکز د بودجوي واحدونو او ولایتي ادارو تر منځ ځینې بودجوي او مالي ستونزې شتون لري. په ولایتونو کې د کارکوونکو د ظرفیتونو په برخه کې د اندیښنو تر څنګ، د همغږۍ او ارتباطاتو ستونزې نه یواځې د اصلاحاتو او بدلونونو په برخه کې د پام وړ دي، بلکه د کلنۍ بودجې په اړه د ولایتي کارکوونکو أرتباطات هم کمزوري دي. ولایتي مامورین د بودجې د جوړولو پر مهال او د تخصیص د بې وخته اعلامیې په اړه د مرکزي ادارو د نیمګړو سلا مشورو څخه سر ټکوي. ولایتي اداراتو ته د بودجې د تخصیصاتو په برخه کې د زیاتره بودجوي واحدونو طریقه نا معلومه وي. د عامه مالي سیستم د پوښښ محدودیت نوموړې ستونزه لا پسې زیاته کړې ده- په ځینو وختونو کې د ارتباطاتو ستونزه ډیره جدي نه وي خو بیا هم د معلوماتو د نیمګړتیا لامل کیږي. په پاې کې نا امنۍ د افغانستان په ډیرو سیمو کې د عامه مالي ادارې د معلوماتي سیستم اغیزمنتیا محدودوي، د بیلګې په څیر ځینې وخت د امنیت د نه شتون له امله د ولایتي ادارو پلټنه چې د مدارکو او شتمنیو اسناد لري، نه شي تر سره کیدلاې.

## د افغانستان د عامه مالي چارو د ادارې د پیاوړتیا لپاره مهم موضوعات

.

د عامه مالي چارو د ادارې د اصلاحاتو نوموړې طرحه په دریو اساسي موضوعاتو تمرکز کوي. هره یوه موضوع یې له دریو څخه تر څلورو پورې د لومړیتوب وړ ساحې رانغاړي:

### 1. د لومړیتوب وړ اهدافو د تر لاسه کولو په موخه د بودجې پیاوړتیا

۱. **د مرستو تنظیم**- د یوې جامعې بودجې د جوړولو او نشرولو له لارې د مرستو د ادارې پیاوړتیا چې په افغانستان کې حقیقي لګښتونو ته انعکاس ورکړي، او وطنوالو او مرستندویانو ته په یو ډول وړاندې کړل شي. د نوموړې هدف د ترلاسه کولو په موخه د مرستندویانو د ډیټابیس(DAD) او د مرستندویانو د مالي کره کتنې(DFR) اصلاح.

۲. **منځمهاله مالي استراتیژي:** د منځمهاله مالي استراتیژۍ پرمختګ مالي ټینګښت ته د رسیدو لپاره د افغانستان د اهدافو د کره کتنې لپاره په زړه پورې فرصت برابروي. نوموړې استراتیژي د پرمختیایي پروژو د اضافي لګښتونو( تر یوه حده چې هغه معلومات چې د وزارتونو څخه تر لاسه شوي او د هغوی د تادیې وړتیا)، د امنیت د سکتور د لګښتونو او د ټولو مالي فشارونو لپاره تقویه او پیاوړې کیږي. نوموړي معلومات به د مرستندویانو د مالي بررسۍ له لارې د مرستندویانو د ډیټابیس د کره معلوماتو د وړاندوینې سره یو ځاې کیږي. منځمهاله مالي چوکاټ به په تدریجي ډول په منځمهاله بودجوي چوکاټ تبدیل کړاې شي چې غښتلي بودجوي سقف جوړوي، او د ملي لومړیتوبونو سره سم په اغیزمنه توګه لګښتونه تخصیصوي.

۳. **پروګرامي بودجه –** پروګرامي بودجه به په ساده او بسیط ډول په ۱۳۹۰ کال کې د کابینې په غښتلي ملاتړ او د دولتي ادارو تر منځ د ښو اړیکو په مټ پلي کړاې شي، تر څو دولت وکولاې شي په غوره ډول د فعالیتونو پایلې د تاکل شوو اهدافو سره پرتله کړي. په تدریجي ډول به بودجه د پروګرام پر بنسټ وړاندې کړل شي او د ۱۳۹۰ کال د بودجې د استماع یا اورونې لپاره به د کابینې د بودجې کمیټې ته د یوه متحد پریزینټیشن په وړاندې کولو سره پیل شي.

### 2. د بودجې د تطبیق پیاوړتیا

۱. **ولایتي بودجه –** د بودجې د تطبیق پیاوړتیا د تخصیص شوو مالي منابعو له مخې د افغانستان د وګړو لپاره د غوره خدمتونو د عرضه کولو په موخه تر سره کیږي. د ولایتې تخصیصونو په پروسه او د پروګرامونو د پیژندلو، پلان او بودجې په جوړولو کې رونټیا د بودجې په اجرا او تطبیق کې د پام وړ رول لوبوي. د مالیې وزارت د غوره واکمنۍ او د منابعو د تخصیص په پروسه کې د رونټیا د زیاتوالي

په موخه د ظرفيتونو د لوړوالي، ارتباطاتو او په اغيزمن ډول د بودجې د پلان جوړونې او د پروژو د تنفيذ په برخه کې د ولايتي ادارو د ګډون لپاره هلې ځلې کوي. نوموړې کار به په ۱۳۹۰ کال کې د بوجوي تخصيصاتو په اړه د وزارتونو سره د سلامشورې پروسه اسانه کړي؛ په ټولو ولايتونو کې به د مستوفيتونو لپاره روزنيز پروګرامونه داير کړل شي او د پوهنې د وزارت سره به په څلورو وازتونو کې د اړتيا پر بنسټ د تخصيص لړۍ په امتحاني ډول پيل کړل شي.

**۲. تدارکات** – په افغانستان کې د تدارکاتو په اجرا کولو کې ځنډ د پرمختيايي بودجې د اجرا د کچې د تاخير اساسي لامل بلل کيږي. د افغانستان د بيا رغونې د وجهي صندوق د څارنې د استازي لخوا نيمګړې احصاييه په ګوته کوي چې په اړونده وزارتونو کې د تدارکاتو کړنلارې په سمه توګه نه پلې کيږي. په مهمو وزارتونو کې به د تدارکاتو د پروسې اصلاح پيل او په منځمهاله موده کې به ټولو دولتي ادارو ته و غزول شي. نوموړي اصلاحات باوري کوي چې د وزارتونو جوړښت د تدارکاتي کړنلارو سره سم دي او د ارزول شوي قانوني چوکاټ سره اړخ لګوي، تر څنګ يې د اړتيا په صورت کې د تدارکاتو د اجرا کولو په اساسي مراحلو کې د وړتيا لرونکو او تجربه کارو کارکوونکو ګمارنه تر سره کيږي.

**۳. د فعاليتونو څارنه:**– د بودجې ټول وړانديزونه بايد د ټاکلو مالي او غير مالي اهدافو په پام کې نيولو سره وړاندې کړل شي. هغه لس وزارتونه چې په ۱۳۸۹ کال کې په امتحاني ډول پروګرامي بودجه پلې کوي، بايد په ربعوار ډول راپورونه ترتيب کړي، نوموړې لړۍ به په ۱۳۹۰ کال کې ټولو بودجوي واحدونو ته و غزول شي. نوموړي معلومات به د نورو اړينو لارو چارو د پيژندلو لپاره کابينې ته وړاندې کړل شي او د بودجې د دقيقو او مؤثرو تخصيصاتو لپاره به و کارول شي.

همداراز د مالي وزارت د ټولو وزارتونو لپاره اړتياوې معرفي کړي دي؛ تر څو خپل مياشتيني مالي پلانونه د کال په پيل کې وړاندې کړي. د بودجې سکتورونه د نوموړو وزارتونو د تطبيق راپورونه ترتيبوي، د هغوي د مالي پلانونو سره يې پرتله کوي او مهم تغيرات تر څيړنې او ارزونې لاندې نيسي.

**۴. د بودجې د تطبيق نورې ساحې:**- د بودجې د پلي کولو نورې ساحې هم د اصلاح په موخه په تفصيلي کاري پلان کې ځاې پر ځاې شوي دي، د بيلګې په څير د نقدي بسپنو اداره او د معاشونو توزيع.

3. **د شفافيت او حساب ورکولو زياتوالې**

**۱. اړيکي** – په مالي وزارت کې د اړيکو پياوړتيا؛ تر څو باوري کړل شي چې کارکوونکي په بشپړه توګه د اصلاحاتو د هدف او د هغوی د اغيزو او مهالويش په اړه بشپړ پوهاوی لري. افغانانو او نړيوالې ټولنې ته به کره معلومات وړاندې کيږي او د عامه ټولنې سازمانونو ته به په ښه توګه د بودجې د جوړولو په مراحلو کې ونډه ورکول کيږي. د مالي وزارت په پام کې لري تر څو د بودجې او عامه مالي مديريت کړنلاري پياوړي کړي. ټول وزارتونه او ۳۴ مستوفيتونه به په بريالي ډول د افميس د سيستم سره وصل شي، چې له مخې به يې د مالي وزارت وکلاې شي چې د دولت د ټولو سطوحو لپاره د عامه لګښتونو راپورونه تهيه کړي.

**۲. کورنۍ پلټنه**- په وزارتونو کې د پلټنو تر سره کول د فعاليتونو د ښه والي او د اداري درغليو د کچې د راټيټولو لامل کيږي. د مالي وزارت د کورنۍ پلټنې څانګه په ټولو دولتي ادارو کې د احتمالي خطراتو د اداري پر بنسټ پلټنه تر سره کوي، چې په ترڅ کې به يې د اداري جوړښت، کړنلارو او طريقو کره کتنه تر سره شي. د نوموړې پلټنې په ترڅ کې د ترلاسه شوو ستونزو لپاره ځانګړي د حل لارې چارې او د ظرفيت د لوړولو پروګرامونه تر سره کيږي.

**۳. بهرنۍ پلټنه** – د پلټنې د نوي قانون له مخې به د کنترول او پلټنې په دفتر کې د راپور ورکولو او کړنلارې په برخو کې خپلواکي رامنځته شي. په ملي شورا کې به د عامه حسابونو يوه کميټه جوړه شي چې بهرنۍ بررسۍ باوري کړي او د کنترول او پلټنې له دفتر سره راپورونه تعقيب کړي. د کنترول او تفتيش اداره به د خپلې تګلارې او دستورالعمل تر څنګ په ۱۳۸۹ کال کې د ظرفيت د لوړولو او پراختيا جامع پروګرامونه برابر کړي.

د عامه مالي تنظیم د طرحې بنسټيز موضوعات په لاندې ډول بیان شوي دي:
د لومړیتوب وړ اهدافو د ترلاسه کولو په موخه د بودجې پیاوړتیا

| شمار ه | د اصلاحاتو موخه | اقدام / مهالویش |
|---|---|---|
| 1.01 | **د مرستو اداره کول**<br>د کابل په کنفرانس کې د دولت د ژمنو په غبرګون کې باید مرستندویان خپل انفرادي پلا نونه د مرستندویانو په کلنۍ کره کتنه کې وړاندې کړي، چې له مخې به یې په راتلونکو دوه کلونو کې د دولت د سیستم له لارې ۵۰ ٪ مرستې مصرف کړای شي.<br><br>د ۱۳۹۰ کال لپاره به یوه تولیزه بودجه وړاندې کړل شي، چې د بودجې نه بهر د مرستندویانو پروګرامونه رانغاړي چې په اغیزمن ډول د مالي مرستې لپاره د دولت اړتیاوې پوره کوي.<br><br>د مرستندویانو اصلاح شوې مالي کره کتنه به د ۱۳۹۰ کال د لومړیتوبونو لپاره مالي منابع تصدیق کړي، نوموړې کره کتنه به تر ډیره بریده د دولت په لومړیتوبونو، ګټورو پروګرامونو او د ملا تړ په موخه په منځمهاله وړاندوینو باندې تمرکز وکړي.<br><br>[د مرستندویانو د مشورتي مالي کره کتنې DFR پروسه به د مرستو د اغیزمنتیا په برخه کې د څارنې او راپور ورکولو د چوکاټ سره مطابقت ولري].<br><br>د مرستندویانو د مرستې ډیټابیس DAD د مرستندویانو د مرستو په اړه د دقیقو، پر وخت، او وړاندوینې وړ معلوماتو د ترلاسه کولو په موخه کارول.<br><br>د کلسترونو طرحه چې د مرستندویانو لخوا د عملي محدودیتونو په اړانه کې وړاندې شوې، د ۱۳۹۰کال د بودجې په پروسه کې په اغیزمن ډول د لومړیتوبونو ملاتړ کوي،<br><br>د کلسترونو د سهمدارانو سره د سلا مشورې په ترڅ کې د پایلو پربنسټ د افغانستان د پرمختګ د ملي استراتیژۍ د ملاتړ په موخه د یوه ساده چوکاټ رامنځته کول [ لومړیتوب ورکړل شوې دي] | [د کابل د کنفرانس څخه د مخه د مرستندویانو سره د یوې معیاري میتودولوژي پر سر هوکړه چې له مخې یې د مالي مدیریت له پلوه د وزارتونو وړتیاوې و ارزول شي] طمه کیږي چې په نوموړې پروسه کې یواځې هغه وزارتونه ومنل شي چې په مستقیمه توګه د بودجې د ملا تړ وړتیاوې ولري. په هغه صورت کې چې وزارتونه د تصدیق اړین معیارونه پوره نکړای شي، د ستونزو د حل په برخه کې به یې لازم اقدامات تر سره کړل شي. د ۱۳۸۹ کال په اوږدو کې به د اووه بودجوي واحدونو ارزونه تر سره شي، نوموړې پروسه به دری کاله دوام وکړي او هغو واحدونو چې په لومړي کال کې یې ضعیفه پایلې تر لاسه کړې وي، په دریم کال کې به بیا ځلې و ارزول شي.<br>د مالیې وزارت به د بودجې نه بهر د مرستندویانو پروګرامونه لا د وړاندې نه د ټاکل شوو معیارونو پر بنسټ چې په مناسب ډول په تولیزه بودجه کې رانغاړل شوې دي، و ارزوي[ یا د ۱۳۹۰ کال په بودجه کې او یا د ۱۳۹۰ کال د بودجې په منځمهاله کره کتنه کې]<br><br>د مرستو د اغیزمنتیا د څارنې په اړه یو جامع راپور د افغانستان د پرمختګ د ملي استراتیژۍ په کلني راپور کې شاملیږي.<br><br>[د ۲۰۱۰زیږدیز کال ( د ۱۳۸۹ کال بودجه) لپاره د مرستندویانو مالي کره کتنه بشپړه شوې ده. د بودجې د کمیټې لخوا د دولت تایید شوي لومړیتوبونه د کابل د کنفرانس پر مهال د مرستندویانو د ژمنو لپاره د یوه بنسټ په څیر فعالیت تر سره کړ]<br><br>د مالیې وزارت او د مرستندویانو تولنه به د مرستندویانو د تولنې د ډیټابیس(DAD) د ثبات د اصلاح په اړه د یو لړ مهمو اقداماتو په برخه کې هوکړه وکړي.<br><br>د بودجوي چوکاټ څخه بهر د پروژو په اړه د معلوماتو د بنه والي په برخه کې به کار ادامه ومومي. د مرستندویانو د مرستو په ډیټابیس DAD کې د بولندویانو د چټک غبرګون د پروګرام (CERP) د معلوماتو د شاملولو کار پیل شوې دي. د مالیې وزارت د ټولو پرمختیایی همکارانو څخه غوښتنه کوي چې په خپل وخت د معلوماتو د برابرولو په لړ کې هڅې وکړي. |

| شمار ه | د اصلاحاتو موخه | اقدام / مهالویش |
|---|---|---|
| | | د ۲۰۱۱ زیږدیز کال په اوایلو کې به د کلسترونو د طرحې اغیزمنتیا بررسی کړل شي چې موخه به یې د ترلاسه شوو تجربو عملي کول او د مرستو د برابرولو د تداوم باوري کول وي چې:<br>▪ د افغانانو په واک کې دي؛ او<br>▪ د ملي لومړيتوبونو سره سمون خوري |

| شماره | د اصلاحاتو موخه | اقدام / وخت |
| --- | --- | --- |
| 1.02 | **منځمهاله مالي استراتيژي**<br><br>منځمهاله مالي چوکاټ MTFF هر کال دوه ځله نوې کيږي تر څو د افغانستان خوځنده اقتصاد او د بدلون وړ مالي حالات منعکس کړي.<br><br>د بودجې شرحه د کابينې لخوا تصويب او نشر ته سپارل کيږي، چې منځمهاله بودجوي چوکاټ MTBF احتوا کوي.<br><br>منځمهاله بودجوي چوکاټ MTBF د هر وزارت لپاره د ځانګړو لومړيتوبونو د تمويل په موخه د عوايدو د اټکلونو او د مرستندويانو د ژمنو پر بنسټ غښتلي بودجوي سقفونه لري.<br><br>منځمهاله مالي او بودجوي چوکاټونه(/(MTBF (MTFF)) لاندې ټکي احتوا کوي:<br><br>- د موجوده پرمختيايي پروژو د راتلونکو لګښتونو اټکل؛<br>-د امنيت د سکتور د لګښتونو اټکلونه او د نوموړي سکتور اړونده مالي فشارونه؛<br>- د مرستندويانو د مالي کره کتنې څخه د تر لا سه شوو عوايدو پر بنسټ د منځمهاله وړاندوينې پرمختللي اټکلونه؛<br>- د معادنو د سکتور د عوايدو په ګډون د کورنيو عوايدو پرمختللي اټکلونه؛<br>-د نورو مالي فشارونو نوې او تجديد شوې اټکلونه لکه د رتبو او معاشونو اصلاحات او د تقاعد حقوق. | منځمهاله مالي چوکاټ MTFF به د بودجې په قبلي شرحه او د بودجې په شرحه کې نشر کړای شي.<br><br>د منځمهاله بودجوي چوکاټ MTBF راپور به د ۲۰۱۰ زيږديز کال د سپتمبر د مياشتې د مخه نشر ته وسپارل شي. نوموړې راپور به د هر بودجوي واحد لپاره تصويب شوې بودجوي سقف را ونغاړي ( چې په نتيجه کې به د بودجې په دويم متحدالمال کې بيان شي).<br><br>د ۱۳۹۰ کال د بودجې لپاره به منځمهاله مالي چوکاټ MTFF د دريو راتلونکو کلونو لپاره د اړونده وزارتونو اټکلونه راونغاړي، چې د تصويب شوو پرمختيايي پروژو د راتلونکو عملياتي او حفظ او مراقبت لګښتونه احتوا کوي.<br><br>د ۲۰۱۱ زيږديز کال د مارچ د مياشتې پورې به د مالي پاليسۍ څانګه د معادنو د سکتور د عوايدو د وړاندوينې په ګډون په منځمهاله مالي چوکاټ MTFF کار وکړي. همداراز به د عوايدو د وړاندوينې په اړه د حساسيت تحليل تر سره شي.<br><br>په تدريجي ډول د دولت د مخ پر زياتيدونکو بسپنو ځيړنه او ارزونه چې د پراخو امنيتي ځواکونو لپاره ورته اړتيا ليدل کيږي، پدې شرط چې د ۱۳۹۰ کال بودجه د مرستندويانو لخوا ملاتړ شي.<br><br>د مرستندويانو لخوا د مرکزي بودجې څخه د بهرنيو فعاليتونو په اړه پر وخت او کره معلومات وړاندې کول د ظ۱منځمهاله مالي استراتيژۍ د پرمختګ لپاره اړين بلل کيږي.<br><br>د اوسنيو مالي فشارونو د اټکل تجديد او د نوو اصلاحاتو لګښت چې د ځانګړو اړونده وزارتونو په بودجه کې شامل شوې نه دي. |
| | | |

| شمار ه | د اصلاحاتو موخه | اقدام / وخت |
|---|---|---|
| 1.03 | **پروګرامي بودجه**<br><br>مهم ونډه لرونکي یا سهمداران د پروګرامي بودجې اهمیت درک کولای شي او له همدې امله د اصلاحاتو ملاتړ کوي.<br><br>د بودجې د استماع کمیټه باید لاندې ټکي په پام کې ونیسي:<br><br>-د تیر کال لاسته راوړنې او راتلونکې پایلې/ د خدمتونو اهداف؛<br>-د بودجې د تطبیق په برخه کې د وزارت توانایي (د تیر کال د بودجې اجرا)<br>-د پروژو د اسنادو او پلانونو څرنګوالې؛ او<br>-د مرستندویانو د مرستو موجودیت.<br><br>په بیوزلو افغانانو باندې د لګښت د طرحې مثبتې اغیزې د بودجې په وړاندیزونو کې په ګوته شوي دي.<br><br>د اړونده وزارتونو د پروګرامونو د فعالیتونو په اړه په منظم ډول ولسي جرګې ته د معلوماتو برابرول.<br><br>د بودجې وړاندیزونه د یوه واحد پروګرام پر بنسټ وي او د افغانستان د پرمختګ د ملي استراتیژۍ د پایلو د چوکاټ سره سم واقعي او د راپور وړ اهداف رانغاړي.<br><br>په اړونده وزارتونو کې د عادي او پرمختیایي بودجې د بوجوي فعالیتونو د انسجام په موخه یو کړنلاره پلې شوې ده. | د پروګرامي بودجې لومړۍ پړاو د اړیکو استراتیژي ده چې په لومړي قدم کې به د دولت سهمداران، اړونده وزارتونه، کابینه او ولا یتي مامورین په نښه کړي. نوموړې استراتیژي به وروسته له هغه ولسي جرګې او مدني ټولنې ته وغزول شي تر څو په هغوی تمرکز وکړي.<br><br>د مالیې وزارت به په امتحاني ډول د ۱۳۹۰ کال د بودجې لپاره د بیوزلۍ د کچې د راټیټولو په موخه د پوهنې، شهیدانو او معلولینو او ټولنیزو چارو په وزارتونو کې د لګښتونو د تعقیبولو طرحه معرفي کړي. سر بیره پر دې د مالیې وزارت د بودجې په چوکاټ کې د راتلونکو دریو کلونو په ترڅ کې د نوموړې طرحې د پرمختګ په موخه په مهمو وزارتونو او د دولت په ټولو ادارو کې د بیوزلۍ د راټیټولو او د راپور ورکولو نوموړي طرحه معرفي کوي.<br><br>ټول وزارتونه باید د ۱۳۹۰ کال لپاره د اهدافو په ګډون د یوه واحد پروګرام پر بنسټ بودجه تسلیم کړي. د اهدافو په وړاندې د اجراآتو راپور کابینې ته وړاندې کیږي او د ۱۳۹۰ کال د بودجې د پروسې لپاره به د نتایجو په څیر وکارول شي.<br><br>ټاکل شوې ده چې د ۱۳۹۰ کال د بودجې لپاره به د کابینې د بودجې کمیټې ته د یوه واحد پروګرام پر بنسټ د بودجې وړاندیز تسلیمیږي، په هر ترتیب روایتي او پروګرامي دواړه بودجې به د ملي بودجې په سند کې را ونغاړل شي.<br><br>ولسي جرګې ته یواځې د پروګرام پر بنسټ د تخصیص د اعلامیې د وړاندې کولو وخت د مرستندویانو د میل او علاقې پورې اړه لري تر څو د ځانګړو پروژو لپاره په پروګرامي ډول بسپنې چمتو کړي. |

## 1. په غوره ډول د بودجې تطبيقول

| شمار ه | د اصلاحاتو موخه | اقدام / مهالويش |
|---|---|---|
| 2.01 | **ولايتي بودجه**<br><br>په جامع ډول د مالي ترتيباتو ارزونه چې د مالي چارو د ادارې د چوکاټ د ولايتي آمرينو د رول يوه مهمه برخه ده. نوموړې ارزونه به په چټکه توګه ځينې اصلاحات رامنځته کړي (د صلاحيت ورکول) چې بايد په اوسنۍ اډانه کې تطبيق کړای شي او په ټاکلو ولايتونو کې و ازمول کړای شي. د نوموړو ازموينو پايلې به په پراخه کچه د تطبيق په موخه بيا وارزول شي.<br><br>لاندې ټکې د اصلاحاتو په لومړيو اهدافو کې شامل دي:<br>د بودجې د ترتيب پړاوونه هغه سلامشورې رانغاړي چې له مخې يې د ماليي وزارت د ولايتي بودجې په څير د ولايتي اړتياوو په هلکه پريکړې تر سره کوي.<br><br>د ولا يتونو په کچه د بودجوي واحدونو له خوا د منابعو د تخصيص په برخه کې شفافيت او روښتيا وجود لري. په پراخه کچه د تطبيق په موخه د اړتياوو پر بنسټ د منابعو د تخصيص پروسه ازمايل شوې ده.<br><br>د مستوفيتونو کارکوونکو ته روزنه ورکړل شوې، تر څو د اصلاحاتو د پلي کولو ملاتړ وکړي، د بيلګي په څير د پروګرامي بودجې او د اجراآتو د ادارې په برخو کې.<br><br>د اړونده وزارتونو ملاتړ، تر څو ارتباطاتي تشه له منځه لري کړي او په منظم ډول د ولا يتي ادارو سره اړيکي ټينګي کړي.<br><br>د ولا ياتونو مالي اداره بايد د ولا يتي مالي مديريت د پياوړتيا په موخه د افمیس له راپورونو څخه ګټه پورته کړي. | سيمه ايزه واکمني د ولا يتي واکمنۍ د تشکيل د مالی ترتيباتو سره سمه مخ پر وړاندې ځې. په دې برخه کې به د ماليي وزارت د نورو هيوادونو د تجربو څخه کار واخلي چې د بدلون له دغه ډول پروسو څخه يې ګټه پورته کړې ده.<br><br>د ماليي وزارت به د مخکښبه وزارتونو د مرکزي ادارو او د ۱۸ ولا يتي ادارو او مرستندويانو ترمنځ د سلامشورو اسانتياوې برابرې کړي، تر څو د ۱۳۹۰ کال په بودجه کې ولا يتي اړتياوې مطرح کړي ( د وخت او منابعو د شتون په صورت کې).<br><br>په څلورو ولايتونو کې د ولا يتي پرمختګ د شورا PDC د غړو سره مرسته، تر څو د ولا يت د پرمختګ پلان PDP ترتيب او هغه لارې چارې ولټوي چې له دواړو مرکزي او بهرنۍ بودجې له لارې نوموړې پلان تمويل کړي.<br><br>د نړيوال بانک په ملا تړ سره به د ۱۳۸۹ کال په اوږدو کې په څلورو ولايتونو ( هرات، هلمند، کندهار او باميان) کې د اړتيا سره سم د پوهني د وزارت په همغږې د بودجې د تخصيص ازمايښتي لړۍ پروسه پيل شي.<br><br>په ۱۴ ولايتونو کې د کارمندانو د ظرفيت د لوړولو په موخه د روزنيزو پروګرامونو دايرول، تر څو په نورو اصلاحي برخو کې کارکوونکو ته روزنې برابرې کړي، لکه پروګرامي بودجه.<br><br>د ولا يتي بيا رغوني د پلې سره اضافي سلامشورې، تر څو په سمه توګه د دولت د عامه مالي چارو د تنظيم معيارونه او د ماليي وزارت اصلاحات او کړنلاې پلي کړي. |

| شماره | د اصلاحاتو موخه | اقدام / مهالویش |
|---|---|---|
| 2.02 | **تدارکات**<br>د تدارکاتو رڼه پروسه د بودجې د تطبیق په پروسه کې مرسته کوي.<br><br>عملیات او د پروژې پلان جوړونه د تدارکاتو د عملي کولو پلان رانغاړي.<br><br>د پالیسۍ د ارزونې پایلې د خدمتونو په عرضه کولو باندی د تدارکاتو د اغیزې څارنه احتوا کوي.<br><br>د تدارکاتو د ځانګې کارکوونکي د عامه تدارکاتو لپاره اغیزمنې کړنلارې معرفي او د هغې سره سم کړنې تر سره کوي - د بیلګې په څیر د مشروعه لګښتونو نسبت چې د افغانستان د بیا رغونې د وجهي صندوق ARTF د څارنې د استازي لخوا څارل شویده چې په کلني پول لږ تر لږه د ۱۳۸۹ نه تر ۱۳۹۰ پورې ۲ ٪ پرمختګ په ګوته کوي.<br><br>د تدارکاتو سیتسمونه د تدارکاتو کارکوونکي په دي توانوي چې د باور وړ او معتبر تهیه کوونکي وپیژني.<br><br>تهیه کوونکي:<br>▪ چې د خریدارۍ په ازاد سیستم اعتماد ولري چې د داوطلبۍ لګښتونه راټیټوي<br>▪ د قرارداد سره سم حق الزحمه ورکول کیږې<br>او له همدې امله دولت ته رقابتي او ټیټ نرخونه وړاندې کوي. | د تدارکاتو د وړاندیزونو د کره کتنې کمیټه چې په ۱۳۸۶ کې رامنځته شوې، د ۱۳۸۹ کال په اوږدو کې فعالیت کوي چې د تدارکاتو د وړاندیزونو د لاربښودټکو سره سمون خورې او په ۱۳۸۸ کال کې یی کره کتنه تر سره شوې او تجدید شوې دي.<br><br>مجدد اداري تشکیل به د ۵ څخه تر ۷ پورې په اړونده وزارتونو او شپږو ولایتونو کې معرفي کړای شي تر څو تدارکاتي فعالیتونه پیاوړي شي چې نوموړې کار به د ۱۳۸۹ کال په اوږدو کې تر سره شي. نوموړې پروسه د اداري تشکیل او د تدارکاتو د کارکوونکو د دندو د لایحو کره کتنه کوي، تر څو په قانوني چوکاټ کې په اغیزمنه توګه د تدارکاتو کړنلارې پلې کړي. د اداري تشکیل د تجدید لړۍ به په پای کې په ټولو بودجوي واحدونو کې پلي شي.<br><br>د ۱۳۸۹ کال په اوږدو کې به په اووه اړونده وزارتونو کې د تدارکاتو د تایید د پروسې له لارې د تدارکاتي کړنو کره کتنه تر سره شي. هغه وزارتونه چې تصدیقنامې تر لا سه کړي، مکلف نه دي چې د ( ARDS) څخه ګټه پورته کړي، هغه وزارتونه چې تصدیقنامې تر لاسه نه کړای شي، د هغوې لپاره د ظرفیت د لوړولو او روزنیز پروګرامونه په پام کې نیول کیږي. په پاې کې به د تدارکاتو د تایید پروسه په ټولو بودجوي واحدونو کې عملي کړاې شي.<br><br>د ۱۳۸۹ کال په اوږدو کې به په مجموعي پول ۶۰۰ دولتي کارکوونکو ته د عامه تدارکاتو په برخه کې روزنه ورکړل شي. تر دې دمه په ۱۳۸۹ کال کې د اړونده وزارتونو ۳۰ تنو دولتې کارکوونکو د تدارکاتو په برخه کې لومړنې زده کړې ترلا سه کړي دي. د دوامداره مسلکي پرمختګ لپاره به د تدارکاتو روزنه یو دایمې فعالیت وي.<br><br>د تدارکاتو د معلوماتي سیستم د اداري امتحاني پروسه چې په ۱۳۸۸ کال کې په دریو اړونده وزارتونو کې پیل شوې وه، ټاکل شوې ده چې د ۱۳۸۹ کال په اوږدو کې به اووه اړونده وزاتونو ته پراختیا ومومي. |

| شماره | د اصلاحاتو موخه | اقدام / مهالویش |
|---|---|---|
| 2.03 | **د اجراآتو څارنه**<br>د اړونده وزارت د بودجې وړاندیز ساده او | [ د ۱۳۹۰ کال د بودجې لپاره د ۱۳۸۹ کال په اږدو کې ټولو اړونده وزارتونو د بودجې وړاندیزونه د |

| شماره | د اصلاحاتو موخه | اقدام / مهالویش |
|---|---|---|
| | بسیط اجرایوي اهداف لري چې د تمویل د وړاندیزونو سره اړیکه لري. | اجراآتو مختصر اهداف احتوا کوي.] |
| | د ټاکل شوو اهدافو په وړاندې د اجراآتو شننه تر سره کیږي، او توحید شوي او منسجم راپورونه د اجراآتو مالي او غیر مالي معلومات احتوا کوي چې په منظمه توګه نشر ته سپارل کیږي. | د ۱۹ بودجوي واحدونو څخه د ۱۳۸۹ کال په اوږدو کې په ربعوار ډول د مالي او غیر مالي اجراآتو د معلوماتو تر لاسه کول، چې د لسو مخکښو وزارتونو څخه د بشپړو معلوماتو په ترلاسه کولو باندې زیات تمرکز وکړل شي. نوموړې تمرکز به د ۱۳۹۰ کال په اوږدو کې نورو ۱۹ وزاتونو ته پراختیا ومومي، تر څو د ۱۳۹۱ کال په اوږدو کې په منظمه او کره توګه په خپل وخت راپورونه چمتو کړي. |
| | اړونده وزارتونه په تفصیلي ډول خپل مالي پلانونه وړاندې کوي چې د تدارکاتي پلانونو څخه د نقدي پیسو جریان لاسته راځي. | ربعوار راپورونه د بودجې د تخصیصاتو د اغیزمنتیا په موخه د اړینو لارو چارو د معرفۍ کولو په موخه تجزیه کیږي. |
| | په لومړي پړاو کې واقعي مالي اجراآت د مالي پلانونو په پرتله څارل کیږي او وروسته له هغه په یوه منځمهاله موده کې مخکینی تخصیصات په سیستماتیک ډول د مالي اجراآتو سره ارتباط مومي. | د اجراآتو ربعوار توحید شوې راپور به په ۱۳۸۹ کې کابینې ته وړاندې کړل شي- د نوموړي راپور بشپړتیا به د ۱۳۹۰ او ۱۳۹۱ کلونو لپاره اسانتیاوې رامنځته کړي. |
| | د هغه لګښتونو په اړه راپور ورکول چې د بیوزلۍ د کچې د راټیټولو په موخه کارول کیږي. | د بیوزلۍ د کچې د راټیټولو د طرحې د لګښتونو پیژندنه خپل اخري پړاو ته رسیدلې ده او د لګښتونو په اړه لومړني معلومات په دې ورستیو کې ترلاسه شوي دي. د مالیي وزارت د ۱۳۹۰ په بودجه کې د بیوزلۍ د کچې د راټیټولو لګښتونو ته پاملرنه کړې ( تقریبا غیر امنیتي لګښتونه د عادي بودجې ۲۵ سلنه لګښتونه دي)، د دې تر څنګ به د بیوزلۍ د کچې د راټیټولو د لګښتونو تفصیل او پیژندنه د راتلونکو کلونو لپاره پراختیا ومومي. د بیوزلۍ د کچې د راټیټولو د لګښتونو منظم راپورونه به د افغانستان د پرمختګ د ملي استراتیژۍ ANDS په کلني راپور کې ځای پرځای شي. |
| | | ربعواره مالي جریده به د هري ربعې په پای کې د ۴۵ ورځو په ترڅ کې نشر ته سپارل کیږي. د ۱۳۸۹ کال په اوږدو کې به د اجراآتو معلومات په مالي جریده کې نشر ته وسپارل شي، چې تر څنګ به یې ولسي جرګې ته د ۱۳۹۰ کال څخه وروسته شپږمیاشتني راپورونه هم چمتو کیږي. |
| | | د ۱۳۹۰ کال په اوږدو کې به د بودجې مشرتابه د دولت د مکلفیتونو په اړه معلومات برابروي. د ۱۳۹۲ کال د بودجې د جوړولو په پروسه کې به د تیرو کلونو د قراردادونو د مکلفیتونو څخه کار اخیستل کیږي. اغیزمن کنترول په هغه وخت کې باوري کیدای شي چې د ټاکل شوي تخصیص څخه تجاوز و نکړل شي. څرنګه چې تخصیص د نقدي پلانونو پر بنسټ وي، نو د دې لامل کیږي چې په آسانه توګه د دولت |

| شماره | د اصلاحاتو موخه | اقدام / مهالویش |
|---|---|---|
| | | تادیات تر سره کړل شي. |

## د شفافیت او حساب ورکولو زیاتوالی

| شماره | د اصلاحاتو موخه | اقدام / مهالویش |
|---|---|---|
| 3.01 | **اغیزمن ارتباطات**<br><br>د مالیي وزارت کارکوونکي د اصلاحاتو د پلانونو په ترتیب کې فعاله ونډه لري او پدي برخه کې سلامشوري کوي.<br><br>همداراز د نورو سکتورونو د اصلاحاتو د پلانونو په اړه باید په لومړي پړاو کې د مالیي وزارت سره سلامشورې تر سره شي تر څو په بشپړه توګه د مالي اثراتو ارزونه تر سره شي.<br><br>د اړونده وزارتونو او ولایتونو مامورین باید مخکې له دي چې د اصلاحاتو پروګرامونه تخنیکي مراجعو ته ور وپیژني، باید د اصلاحاتو موخه درک کړي او پدي وپوهیږي چې څرنګه نوموړي اصلاحات د غوره خدمتونو په تر سره کولو کې مرسته کولای شي.<br><br>ولسي جرګه باید د اصلاحاتو د پروګرامونو په پروسو او د هغوې د اهدافو په اړه معلومات ولري. ولسي جرګه باید پدي و پوهیږي چې څرنګه د افغانستان د خلکو اړتیاوې د بودجې په تخصیصاتو کې انعکاس وموميي.<br><br>د مدني ټولنو سره باید په منظمه توګه په پرمختللي بڼه د راپورونو د ترتیبولو او خپرولو له لارې پرمختللې اړیکې وساتل شي.<br><br>د بودجې په جوړولو او لګښتونو په تخصیص کې د مدني ټولنو ښکیل کول.<br><br>د بودجې او مالي کړنلارو په اړه د پرمختللو لارښوونو او هدایاتو موجودیت. | د کابل د نړیوال کنفرانس څخه وروسته چې د ۲۰۱۰ زیږدیز کال د جولاې په میاشت کې تر سره شو، د اصلاحاتو د پروګرام په اړه د مالي وزارت ټولو کارکوونکو ته یو پریزینټیشن ترتیب او ورکړل شو.<br><br>د مالیي وزارت د ارتباطاتو استراتیژي به د ۲۰۱۰ زیږدیز کال د مني پورې ترتیب او د اصلاحاتو د پلي کولو او اغیزمنو اړیکو د ملاتړ په موخه به ترې ګټه پورته شي.<br><br>د ۱۳۸۹ کال په اوږدو کې به:<br>- د خزاینو د ریاست لخوا د محاسباتو لارښود نشر کړای شي؛ او<br>- او د بودجې د ریاست لخوا به د بودجې اسانه او منسجم لارښود نشر شي.<br><br>د ۱۳۸۹ کال په اوږدو کې به په اړونده وزارتونو او ولا یتي اداراتو کې د بودجې او مالي ادارې لپاره د افمیس د معلوماتو د کارولو په برخه کې یو جامع روزنیز پروګران پیل شي.<br><br>د ۱۳۸۹ کال په اوږدو کې به میاشتیني مالي اعلامیي د تخصیص، سهمیی او پروژو په اړه تفصیلي معلومات را ونغاړي.<br><br>د ملي بودجې د وړاندې کولو په برخه کې ترلاسه شوي پرمختګونه به د ۱۳۸۹ او ۱۳۹۰ کلونو د بودجې لپاره د پروژو د ښه وضاحت او د اجراآتو د معلوماتو په ګډون وکارول شي.<br><br>د همغږۍ د زیاتوالي او د معلوماتو د انسجام او په ښه توګه نوموړو معلوماتو ته د لاسرسي په موخه په منظمه توګه د معلوماتي سیستمونو د استازو سره د میاشتینیو غونډو تر سره کول. |

| شماره | د اصلاحاتو موخه | اقدام / مهالویش |
|---|---|---|
| 3.02 | **کورنۍ پلټنه**<br><br>د خطراتو د ادارې او تنظیم پر بنسټ په ټولو دولتي ادارو کې د کورنۍ پلټنې تر سره کول.<br><br>کورنۍ پلټنه لاندې ټکي باوري کوي:<br><br>- د دولت د نافذه قوانینو، پالیسیو، کړنلارو او پلانونو سره د مطابقت کچه ( د اخلاقي چارو د توقعاتو په ګډون)؛<br>- د محاسباتو، مالي او داسې نورو کنترولونو چې د افغانستان د مالي چارو د کنترول لپاره یوه اړانه برابروي، صحت، کفایت او روغوالي؛<br>- د منابعو مؤثر، اغیزمن او اقتصادي استعمال؛<br>- په سمه توګه د شتمنیو کارول او دهغوې ساتنه؛<br>- د هغو مالي او عملیاتي معلوماتو توحید چې د ریاستونو لخوا تهیه شوي دي.<br><br>هغه ستونزې چې د کورنۍ پلټنې پرمهال موندل شوي دي، تر تعقیب لاندې نیول کیږي او د ظرفیت د لوړولو او د دایمي اصلاحاتو د اجنډا په ترتیب کې به وکارول شي.<br><br>د اړونده وزارتونو د کورنۍ پلټنې د مسؤولیت سمون. | د ۱۳۸۹ کال په اوږدو کې به د احتمالي خطراتو پر بنسټ د مالیي وزارت **د کورنۍ پلټنې** د ریاست لخوا څلور وزاتونه و پلټل شي. پداسې حال کې چې د وزارتونو د کورنۍ پلټنې سازماني ترتیبات او کړنلارې به پراختیا ومومي.<br><br>ټاکل شوې ده چې د مالیي د وزارت د کورنۍ پلټنې ریاست به د ۲۰۱۱ زیږدیز کال د مارچ په میاشت کې یو شمیر پلټونکي څلورو اړونده وزارتونو( د عامې روغتیا، د ترانسپورت او هوایی چلن، د کلیو د بیا رغونې او پراختیا او اوبو او بریښنا وزارتونو) ته د پلټنې په موخه اعزام کړي او نورو لویو اړونده وزارتونو ته به یی د همدې کال د سپتمبر په میاشت کې ولیږدوي.<br><br>په نومړو وزارتونو کې به کورنۍ پلټنه سازماني ترتیبات، میتودولوژی او کړنلاري تر څیړنې لاندې و نیسي. د نومړو کره کتنو تر څنګ به د کورنۍ پلټنې د کارکوونکو ظرفیتونه هم و ارزول شي او د هغوی د ظرفیتونو د لوړوالي یه موخه به اړین روزنیز پروګرامونه چمتو کړل شي تر څو په راتلونکي کې د نومړې اداري اړتیاوې پوره کړي. |

| شماره | د اصلاح موخه | اقدام / مهالویش |
| --- | --- | --- |
| 3.03 | **بهرنۍ پلټنه**<br><br>د پلټنې نوې قانون په واضحه توګه د کنترول او پلټنې اداره د یوې بهرنۍ پلټنې د ادارې په توګه معرفي کوي چې په کړنلاره او راپور ورکولو کې د افغانستان د پلټنې د عالي ادارې په څیر خپلواکه ده.<br><br>په ملي شورا کې د کنترول او پلټنې د ادارې ځینې مهم او د پام وړ راپورونه تر څیړنې او ارزونې لاندې نیول شوي دي.<br><br>د کنترول او پلټنې کارکوونکو ته په دوامداره توګه د مسلکي تجربو د ترلاسه کولو فرصتونه ورکول کیږي.<br><br>د بهرنۍ پلټنې اداره د پلټنې د مطابقت راپورونه برابروي چې په ترڅ کې یې جوتیږي چې د منابعو په کارولو کې قوانین او مقررات په منظم ډول په پام کې نیول کیږي او ټول فعالیتونه په مناسب ډول د اصولو سره سم تر سره کیږي.<br><br>په منصفانه ډول د پیسو د لګښت باوري کول، او د فعالیتونو په تر سره کولو کې د مؤثریت، اغیزمنتیا او اقتصاد په پام کې نیول.<br><br>د مالي شرحې په برخه کې د نظریاتو د وړاندې کولو له مخې د ملي شورا، مرستندویانو، نړیوالې ټولنې او عامه وګړو په ګډون سهمدارانو ته اطمینان ورکول.<br><br>د تقلب او اداراي درغلیو موندل شوي قضیې به د نورو اقداماتو او پلټنو په موخه لوې څارنوالۍ ته راجع کړای شي. | ټاکل شوې ده چې د بهرنۍ پلټنې څانګه، چې په راپور ورکولو او دوستورالعمل کې په خپلواکه توګه فعالیت کوي، د ۱۳۸۹ کال په اوږدو کې به د کنترول او پلټنې په اداره کې رامنځته کړل شي.<br><br>د پلټنې نوې قانون به د 1389 کال په اوږدو کې عملي کړای شي.<br><br>د پلټنې د راپورونو د څیړنې او کره کتنې په موخه د عامه حسابونو یوه کمیټه رامنځته شوې ده.<br><br>په ۱۳۸۹ کال کې په ۹۴۶ سازمانونو کې د بهرنۍ پلټنې تر سره کول: ۲۰۶ په کابل کې، ۷۲۶ په ولایتونو کې، ۱۴ بهرنۍ او د قطعېې پلټنې او د ولس مشر د حکم پر بنسټ ځینې ځانګړې پلټنې.<br><br>په ۱۳۹۰ او ۱۳۹۱ کلونو کې د پلټنې پراختیا او وسعت د تیر کال د پلان په پرتله ۷ په سلو کې زیاتوالی مومي.<br><br>د پلټونکو د مهارتونو پیاوړتیا، د پلټونکو د شمیرې زیاتوالی او د هغوی د ظرفیتونو لوړوالی. د ۱۳۸۹ کال په اوږدو کې به د ۲۰۰ پلټونکو لپاره د مسلکي پلټنې، معلوماتي ټیکنالوژی، انګلیسي او عامه خدمتونو په برخو کې روزنېز پروګرامونه برابر کړل شي.<br><br>هر کال د ځانګړو پروژو د فعالیتونو پلټنه تر سره کیږي او د مرستندویانو د غوښتنې سره سم د پورونو او وړیا مرستو د مالي اعلامیې پلټنه تر سره کېږي.<br><br>په ۱۳۸۹ کال کې به د کنترول او پلټنې اداري ته نوي امکانات په واک کې ورکړل شي. په ۱۳۹۰ کال کې په پینځو زونونو کې د کنترول او پلټنې د ادارو رامنځته کول. |

## د وزارتونو د ظرفيتونو د لوړولو په موخه د اصلاحاتو رامنځته کول

د دولتي کارکوونکو ظرفيت د اصلاحاتو د رامنځته کولو په وړاندې مهم خنډ بلل کيږي. د ظرفيتونو لوړوالی به د لاندې ټکو په واسطه ملاتړ کيږي:

- **مهالويش:** د اصلاحاتو مهالويش بايد په داسې بڼه ترتيب شي چې په مرکزي دولت، اړونده وزارتونو او ولايتونو کې د اداري وړ وي. د اصلاحاتو د رامنځته کولو د اهميت په برخه کې بايد ارتباطاتو ته جدي پاملرنه وکړل شي.

- **د اړونده وزارتونو د ظرفيتونو معياري ارزونه:** په هغه صورت کې چې پلان جوړونه او ماليات، تدارکات، د پروژو پلي کول، د پروژو اداره او کورنی پلټنه په معياري ارزونه کې را ونغاړل شي- د کارکوونکو په ظرفيتونو کې يو لړ داسې خلاوې رامنځته کيږي چې نشي کولای په نوي چاپيريال کې خپلې دندې تر سره کړي او په مستقيم ډول بودجوي ملاتړ تر لاسه کړي. دغه ډول ارزونې به د ظرفيت د لوړولو ځانګړې طرحې او روزنيز پروګرامونه په نښه کړي.

- **د ظرفيت د لوړولو پروګرامونه:** د ظرفيت د لوړولو پروګرامونه په مالي وزارت، د کنترول او تفتيش اداری او اړونده وزارتونو کې د عامه مالي اداري د لومړيتوبونو د ترتيبولو د مهمو موضوعاتو د پلي کولو د ملاتړ په موخه اړين ګڼل کيږي. روزنيز پروګرامونه به د اړونده وزارتونو تکره کارکوونکي په نښه کړي تر څو وکولای شي خپلو همکارانو ته روزنيز پروګرامونه داير او د هغوی ملاتړ وکړي. نومړی پروګرام به د وزارتونو د معياري ارزونې پر بنسټ تر سره کيږي، تر څو د دولت په کچه د ظرفيتونو د لوړوالي د پايلو په تر لاسه کولو کې تداوم باوري کړای شي.

- **تخنيکي مرسته:** د دولت په کچه د ولايتي بيا رغونې د ډلې په ګډون د تخنيکي مرستې اوسنی شبکه بايد د اصلاحاتو د تداوم د ملاتړ لپاره وکارول شي. د تخنيکي مرستې لپاره اضافي اړتياوې بايد په پوره پاملرنې سره و ارزول شي تر څو د نومړو پروګرامونو له لارې د ظرفيتونو لوړوالی باوري کړای شي. د دغه ډول ملاتړ لپاره د افغانستان د تخنيکي مرستې ملکي پروګرام CTAP يادولای شو، خو په هر صورت په اړونده وزارتونو کې د ظرفيتونو د لوړولو اوسني پروګرامونه بنايی د نورو دوه اړخيزه مرستو له لارې تقويه کړای شي.

- **په سمه توګه د پروګرامونو طرحه کول:** په سمه توګه د پروګرامونو طرحه اساسي لومړيتوب ګڼل کيږي او د تجربه کارو طرحه کوونکو لخوا چې د کلسترونو په برخه کې فعاليت کوي، حمايه او ملاتړ کيږي. د پروګرامونو د طرحه کولو پر مهال بايد د پروګرام د لګښت، بودجې او پيسو د وړاندوينې به ګډون په عملي امکاناتو او تجزيوي کار باندې ځانګړې تمرکز وکړل شي، تر څو د تطبيق لپاره يو غښتلی بنسټ رامنځته شي. د مالي وزارت به د نسبي ګټې تر څنګ د اړونده وزارتونو او مرستندويانو فعال ګډون باوري کړي. د اړتيا په صورت کې به اړونده وزارتونه د پروګرام د پلي کولو څانګې چې په اړونده وزارتونو کې موقعيت لري، په مجدد ډول له سره تشکيل کړي، تر څو وکولای شي د قراردادي کارکوونکو او ځانګړو ترتيباتو د کارولو په ګډون په اغيزمنه توګه پروګرامونه تطبيق کړي چې موخه يې په سمه توګه د پروګرامونو تنظيم او د افغان ظرفيتونو ساتل دي.

- **لارښوونه:** دولتي مامورين به په خپلو ادارو کې پرمختللو لارښوونو، د محاسباتو تجديد شوي لارښود او د بودجې لارښود ته چې په ۱۳۸۹ کال کې نشر کيږي، بشپړ لاسرسی ولري. پرمختللي لارښوونې به بهرني همکاران ديته وهڅوي چې په سمه توګه د افغانستان د دولت په کړنلارو پوه شي.

- **معلوماتي سيستمونه:** د اصلاحاتو د اهدافو د ترلاسه کولو لپاره په اغيزمنه توګه د معلوماتي سيستمونو او د معلوماتو د اداري کارول د پام وړ اهميت لري. د هيواد په کچه به په مکرر ډول د اوسنيو معلوماتي سيستمونو لکه افميس AFMIS په برخه کې روزنيز پروګرامونه تر سره شي. معلوماتي سيستمونو ته لاسرسی به وسعت او پراختيا ومومي، چې په دي برخه کې به اضافي سايټونه

چې د تدارکاتو د اداري معلوماتي سیستم (MIS) ته لاسرسی، او یا د هیواد د بودجې د جوړولو سیستم (SBPS) یا د بودجې د پلان جوړونې او لګښتونو د تعاقب ډیټابیس (BPET) ته لاسرسی برابروي. د معلوماتي سیستمونو د روزنې تمرکز به د سیستمونو د تخنیکي فعالیت څخه د تحلیل په لور بدلون ومومي او مالي او غیر مالي معلومات به د تصمیمونو او پریکړو د ملاتړ په موخه وکارول شي. د هغو سیستمونو لپاره د ټاکلو واک چې د عامه مالي اداري د مختلفو فعالیتونو لپاره کارول کیږي، په منځمهاله موده کې د پروژو د تطبیق په موخه ملاحظه کیږي. د بودجې د تطبیق په ځانګړې ساحه کې د معلوماتو د سیستم رانغاړل د هغه فعالیتونو د ښودلو لپاره شامل شوي دي چې د معلوماتي سیستمونو اغیزمن استعمال په ښه کوي.

- **تشویق:** د موجوده ظرفیتونو د ساتلو یا د مهارتونو د پرمختګ د ملاتړ په موخه د تشویقي تادیاتو ورکړه به د قضیو پر بنسټ تر پاملرنې لاندې ونیول شي. تشویقي تادیات به یواځې د ښه لاسته راوړنې او په ښه توګه د خپلې دندې د تر سره کولو په صورت کې وړاندیز کیږي. همداراز دولت د مرستندویانو له خوا د تمویل کېدونکو معاشونو لپاره د مساوي او برابرو معاشونو وړاندیز کوي، تر څو د دوامداره او وړتیا لرونکي کاري ځواک د رامنځته کولو لپاره بنسټ جوړ کړي.

د افغانستان اسلامي جمهوریت
د مالیې وزارت
مالي معینیت
د عامه مالي چارو د تنظیم د څېړونې څانګه
پښتونستان واټ، کابل، افغانستان
www.mof.gov.af
ایمیل: nematb@gamil.com
ګرځنده تلیفون: 0700289029